مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسيس کال: ۱۳۲۸ لمريز

هېواد
ورځپانه

دوشنبه | ۱۴۴۸/۰۱/۱۳ هـ ق | ۱۴۰۵/۰۴/۸ هـ ش | 2026/06/29 م | خصوصي ګڼه: ۷۲ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۴۴ مه | دوره: اتمه

د بهرنيو چارو وزير:

اسلامي امارت به له ملګرو ملتونو سره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي

د بهرنيو چارو وزير مولوي اميرخان متقي، د يوناما د نوي مرستيال او د بشري چارو همغږي کوونکي، برونو لامارک، سره د معرفت ناسته ترسره کړه.

د بهرنيو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په دې ليدنه کې برونو لامارک د بشري مرستو د اغېزمن مديريت او د مرستو د وېش د ښه والي په اړه خپل نظرونه شريک کړل.

مولوي اميرخان متقي د بشري مرستو ترڅنګ د پراختيايي او زېربنايي پروژو د پلي کېدو پر اهميت ټينګار وکړ او ويې ويل: اسلامي امارت به په دې برخه کې له ملګرو ملتونو سره خپلو همکاريو ته دوام ورکړي.

بلخوا، د يوناما نوي مرستيال د هرکلي له امله مننه وکړه او ژمنه يې وکړه، چې د ورسپارل شويو دندو د اغېزمن ترسره کولو لپاره به خپلې ټولې هڅې وکړي. نوموړي همدارنګه د افغانستان او ملګرو ملتونو ترمنځ د تعامل او په بېلابېلو برخو کې د همکاريو د لا پراختيا پر اهميت هم ټينګار وکړ.

د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ د سوداګرۍ شورا د جوړېدو هوکړه ليک لاسليک شو

په بشکيک کې د افغان-قرغيز سوداګريز فورم ناسته، د افغانستان او قرغيزستان د دولتي ادارو، سوداګريزو خونو او خصوصي سکتور استازو او چارواکو په ګډون تر سره شوه. په بشکيک کې د اسلامي امارت د سفارت سرپرست مولوي عبدالشکور حقاني د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ د سوداګرۍ، پانګونې، ترانزيټ او اقتصادي همکاريو د پراخ ظرفيت يادونه وکړه او داډ يې څرګند کړ، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ به د سوداګريزو اړيکو د پياوړتيا او ګډو اقتصادي نوښتونو ملاتړ ته دوام ورکوي.

همدا راز د افغانستان او قرغيزستان د سوداګرۍ خونو چارواکو د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو او اقتصادي همکاريو د لا پراختيا په برخه کې د هر اړخيز ملاتړ ډاډ ورکړ.

د فورم په ترڅ کې د افغانستان او قرغيزستان ترمنځ (د سوداګرۍ شورا) د رامنځته کولو په موخه هوکړه ليک لاسليک شو، چې د دواړو هېوادونو د سوداګرو ترمنځ د مستقيمو اړيکو د پياوړتيا، ګډو نوښتونو د همغږۍ او اقتصادي پروژو د ودې اوملاتړ په برخو کې فعاليت لا پراخه کړي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت پلاوي په چين کې له افغان سوداګرو سره وکتل

د صنعت او سوداګرۍ وزارت پلاوي، چين ته د خپل سفر پر مهال له يو شمېر افغان سوداګرو سره کتلي دي. شوې او پلاوي د سوداګرو ستونزې او ننګونې ارزولي او د هغوی د غوښتنو د حل او همکارۍ ډاډ يې ورکړی دی.

د ياد وزارت د خبرپاڼې له مخې، دا کتنه په چين کې د مېشتو افغان خصوصي سکتور د غړو د ملاتړ په موخه ترسره د اقتصادي چارو شنونکی، قطب الدين يعقوبي هم وايي: «د سوداګرو او دولتونو ترمنځ اړيکې کولای شي ...

۲مخ

سرليکنه

له نشه‌يي توکو پاک افغانستان؛ د امارت ستره لاسته راوړنه

د هر ملت راتلونکی د هغه د ځوان نسل له فکري، اخلاقي او جسمي سلامتۍ سره تړاو لري. هغه ټولنه چې ځوانان يې د نشه‌يي توکو له ناوړه اغېزو خوندي وي، د علم، کار، توليد او پرمختګ لپاره غوره فرصتونه پيدا کوي. د همدې لپاره د نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزه د هېواد د راتلونکي د ساتنې مهم مسئوليت دی.

د عامې روغتيا وزارت اړوند په نشه‌يي توکو د روږدو د درملنې لوی رياست په کابل کې د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې او عامه پوهاوي غونډه ترسره کړه. په دې غونډه کې اعلان وشو چې اسلامي امارت توانېدلی په هېواد کې د نشه‌يي توکو کښت، قاچاق او کارونه نږدې صفر ته ورسوي. مسئولينو همداراز ووېل چې يوازې د تېر کال په اوږدو کې له ۴۵ زرو څخه د ډېرو روږدو کسانو درملنه شوې ده. دا شمېرې د مبارزې او درملنې دواړو برخو کې د پراخو هڅو څرګندونه کوي.

اسلامي امارت د نشه‌يي توکو د مخنيوي په برخه کې له لومړيو ورځو روښانه دريځ غوره کړی دی. د کوکنارو د کښت بندول، د قاچاق د شبکو پر وړاندې اقدامات او د روږدو کسانو د درملنې پروګرامونه د همدې پاليسۍ عملي بېلګې دي. د دغو اقداماتو موخه دا ده چې افغانستان له دې ناوړه پديدې پاک وساتل شي او راتلونکی نسل په سالم چاپېريال کې ژوند وکړي.

د نشه‌يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت جدي اقدامات د نړيوالو پام هم ځان ته اړولی دی. اسلامي امارت له پيله په دې برخه کې قاطع دريځ غوره کړی او د کښت، قاچاق او کارونې د مخنيوي لپاره يې عملي ګامونه پورته کړي دي. د روسيې په ګډون يو شمېر هېوادونو هم دا واقعيت منلی او په خپلو څرګندونو کې يې د افغانستان وروستي پرمختګونه ياد کړي دي. دا وضعيت څرګندوي چې د نشه‌يي توکو پر وړاندې د اسلامي امارت مبارزه د سيمې او نړۍ له لوري هم د پام وړ بلل شوې ده.

د روږدو کسانو درملنه د دې بهير بله مهمه برخه ده. زرګونه هغه کسان چې د درملنې له لارې عادي ژوند ته راګرځي، د خپلو کورنيو لپاره د نوې هيلې پيغام هم له ځان سره وړي. د هر روږدي انسان رغېدل د يوې کورنۍ د غم کمېدو او د ټولنې د سالم پاتې کېدو په معنا دي.

د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې دوام د حکومت تر څنګ د ټولنې ګډې همکارۍ ته هم اړتيا لري. کورنۍ، ديني عالمان، ښوونکي، رسنۍ او د ټولنې مخور کولی شي د عامه پوهاوي په لوړولو او د ځوان نسل په لارښوونه کې مهم رول ولوبوي. هر هغه ځوان چې له دې ناوړه پديدې ژغورل کېږي، د هېواد د ودې او سوکالۍ برخه ګرځي.

د تېر کال د لاسته راوړنو ارزونه ښيي چې د نشه‌يي توکو د کښت، قاچاق او کارونې د مخنيوي ترڅنګ د روږدو کسانو درملنې ته هم جدي پاملرنه شوې ده. د دغو هڅو دوام د دې زمينه برابروي چې افغانستان لا خوندي، سالم او له نشه‌يي توکو پاکه ټولنه ولري او راتلونکی نسل په ښه چاپېريال کې خپلې ورتياوې وکاروي.

مولوي قدرت‌الله جمال:

د سياحت، زده‌کړو او زيارت په برخو کې بايد لا ډېرې اسانتياوې رامنځته شي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري چارو معين مولوي قدرت‌الله جمال سره د ايران سفير علي‌رضا بيکدلي او په کابل کې د ايران کلتوري اتشې سيد روح‌الله حسيني ليدنه کړې. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت وايي، چې د دې ليدنې موخه د افغانستان ...

۳مخ

اروپايي کمېسيون:

د افغان کډوالو ستنول بايد له نړيوالو قوانينو سره سم وي

د افغان کډوالو، چې پر جرمونو تورن دي، افغانستان ته د ستنولو په اړه د اروپايي ټولنې او اسلامي امارت تر غونډې پنځه ورځې وروسته، د اروپايي کمېسيون وياند اعلان کړی، چې د افغان مجرمو کډوالو د بېرته ستنولو پرېکړه د اروپايي ټولنې نه، بلکې د دې ټولنې د غړو هېوادونو صلاحيت دی.

مارکس لامرت همداراز ټينګار کړی، چې د دغو کسانو هر ډول بېرته ستنول بايد د اروپايي ټولنې د قوانينو، نړيوالو قوانينو او د بنسټيزو بشري حقونو د اصولو له مخې ترسره شي.

د اروپايي کمېسيون وياند، مارکس لامرت، وايي: «هغه ټکی چې تل بايد ورته پام وشي دا دی، چې د کډوالو د بېرته ستنولو د بهير پلي کول د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو صلاحيت دی. دا معنا لري، چې د ناقانونه کډوالو د بېرته ستنولو پرېکړه د هر غړي هېواد د اړوندو چارواکو د انفرادي پرېکړو پر بنسټ کېږي. دا پرېکړه د اروپايي کمېسيون په واک کې نه ده.

د هر چا د بېرته ستنولو پرېکړه بايد د اروپايي ټولنې او نړيوالو قوانينو، په ځانګړي ډول د بنسټيزو ...

۳مخ

د اريانا افغان هوايي شرکت «بوينګ چارټر» الوتکه کابل نړيوال هوايي ډګر ته رارسېدلې

اريانا افغان هوايي شرکت وايي، چې د ياد شرکت يوه بوينګ (۷۶۷-۲۰۰) ډوله چارټر الوتکه د کابل نړيوال هوايي ډګر ته رارسېدلې، او سر له نن دوشنبې به په منظمې نړيوالې الوتنې پيل کړي.

د دغه شرکت د خبرپاڼې له مخې چې ياده الوتکه د اريانا افغان هوايي شرکت او اردن هوايي شرکت له مسئولينو سره د لاسليک شوي تړون په پايله کې د شپږو مياشتو لپاره چارټر شوې ده.

سرچينې ليکلي، چې دا الوتکه په هر پرواز کې د شاوخوا ۲۹۰ مسافرو او ۲۵ ټن سوداګريزو توکو د لېږد ظرفيت لري. د اريانا افغان هوايي شرکت مسئولينو د دې چارټر الوتکې راتګ د هېواد د هوايي ټرانسپورټي شبکې پياوړتيا او پراختيا لپاره مهم اقدام بللی دی او په وينا يې چې تر ډېره به د کابل - استانبول او کابل - جدې سکټورونو لپاره ځانګړې شي.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت:

د هېواد په ۱۷ ولايتونو کې د ۲۱ تير پارکونو د جوړېدو کارونه جريان لري

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت وايي چې د هېواد په ۱۷ ولايتونو کې ۲۱ تير پارکونو پروژې د کار لاندې دي. دوی وايي: تير پارکونه د هېواد دننه په ټرانسپورټ کې اړين ځای لري او د جوړېدو سره به يې ګڼ شمېر آسانتياوې موټر چلوونکو، سيمې اوسېدونکو او سوداګرو ته رامنځته کېږي. بل خوا اقتصادي شنوونکي په دې باور دي چې تير پارکونه د نړيوالې سوداګرۍ بنسټ جوړوي او دا ممکنه کوي چې تر څو د هېواد ټرانزيټي موقعيت غوره ځای په سيمه ييزه کچه خپل کړي ...

۳مخ

په کنړ کې لسګونه کورنيو ته د څښاک اوبه برابرېږي

د کنړ په وټپور ولسوالۍ کې د اوبو رسولو يوې شبکې د جوړولو چارې پيل شوې. د کليو بيارغونې او پراختيا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي، چې د کنړ د کليو بيارغونې او پراختيا رياست له لوري د دغه ولايت د وټپور ولسوالۍ په شاميرکوټ کلي کې د څه باندې ۲.۴ ميليونه افغانيو په لګښت د اوبو رسولو يوې شبکې د جوړولو چارې پيل شوې دي.

ويل شوي چې په ياده شبکه کې د ۷۰ مترو په ژوروالي د يوې څاه کيندل، د ۲۰ متره مکعب په ورتيا د پاکو اوبو يوې ذخيرې جوړول، د ۲۱۳۵ مترو په اوږدوالي د پايپ غځول او د ۵۵ شيردانونو نښلول شامل دي.

هېره دې نه وي چې د يادې پروژې د تطبيق په بهير کې به لسګونه کسانو ته د کار زمينه برابره شي او په بشپړېدو سره به يې ۵۵ کورنۍ د څښاک اوبو ته لاسرسی پيدا کړي.

بغلان کې د کورنيو توليداتو او محصولاتو درې ورځنی ننداړتون پرانيستل شو

د بغلان د صنعت او سوداګرۍ رياست له لوري په پلخمري ښار کې د کورنيو توليداتو او ملي محصولاتو درې ورځنی ننداړتون پرانيستل شو. د ياد ولايت د صنعت او سوداګرۍ رئيس قاري محمد نعيم همکار باختر اطلاعاتي اژانس ته ويلي، چې په دغه ننداړتون کې صنعت کارانو، توليدوونکو او سوداګرو ته ۸۵ غرفې ځانګړې شوې دي، څو خپل بېلابېل کورني توليدات او محصولات نندارې ته وړاندې کړي.

د نوموړي په وينا، په ننداړتون کې خوراکي توکي، لاسي صنايع، کرنيز محصولات، کاني توکي، جامې، د پاکولو مواد او نور کورني توليدات ننداړې ته وړاندې شوي دي ...

۳مخ

«آنانی که لافیده اند نبافیده اند»

استوار

کسانیکه نیت کار و خدمتگذاری دارد دست به عمل می زده و کار می‌کنند وکسانیکه نیت کار و خدمت را ندارند کار شان معلوم نیست اما همه مه و دغدغه را در حد وعده و وعید راه می اندازند تا باشد اذهان عامه را اغوا نمایند.

شاعر گوید:

زدیگ پخته گان ناید صدایی

خروش از مردمان خام خیزد

تاریخ معاصر کشور عزیز مان بویژه چهاردهه اخیر پر از فراز و نشیب ها بوده اگر اندکی روی این فراز و نشیب ها تمکین نماییم در خواهیم یافت که فاصله میان گفتار و عمل زیاد است اگر هموطنان ما به یاد داشته باشند سخنان شعبده بازانه واحساساتی مسولین نظام جمهوریت طوری بود که در بیست دقیقه تمام افغانستان را معمور و آباد می ساخت، البته در حد حرف و سخن اما در عمل مو را از مو جدا نکردن. نظام تحمیلی جمهوریت از سوی اجنبی ها طی بیست سال با داشتن امکانات مالی فراوان آنچه که کردن چه بوده می‌تواند؟ علاوه از اینکه کوچکترین کاری برای وطن نکردن بل یک تعداد داشته های مادی و معنوی را نیز در زمان حاکمیت جمهوریت از دست دادیم به عنوان مشت نمونه خروار در بخش های مختلف چند مورد را عنوان مینماییم. در بعد داشته های فرهنگی و تاریخی آثار و داشته های ما بالاثر جنگ ها و گذشت زمان در حال از بین رفتن بود، موسسات تعلیمی و تحصیلی شکل تجارتی را به خود گرفته بود. هر کس در بدل پول می توانست سند معتبر تحصیلی به دست آرد، زراعت وصنعت بالاثر واردات بدون قید وشرط از سوی شرکت های خارجی رو به رکود بود، طبابت هشتاد فی‌صد در کشور های همسایه سپرده شده بود در داخل کشور تداوی کمتر صورت می‌گرفت و مردم ما به کشور های بیرونی سرگردان به غرض تداوی مریضان شان با پول هنگفت می رفتند. ادارات دولتی ملکی و نظامی شیرازه خود را از دست داده بود، چوکی های دولتی به سر قفلی داده می شد، زور گیری ها و خود کامه گی ها از حد گذشته بود و دولت قادر به یک نظم شهری در شهر های بزرگ هم نبود، مسولین نظام از سرمایه ملت روز های پنجشنبه و جمعه خود را به دبی سفر و چکر می رفتند، عیاشی و خوش گذرانی در ادارات معمول گردیده بود و هزاران معایب وصایب دیگر دامنگیر ملت و وطن شده بود. مسولین امارت اسلامی؛ چون: اراده خدمت به وطن و مردم خویش را داشتند و دارند چگونه در کوتاه مدت توانستند جلو همه نابسامانی های اجتماعی را در تمام عرصه ها به دست گیرند و مدیریت کنند تنها کار کرد های امارت اسلامی را در ترمیم و نو سازی جاده ها در مرکز و ولایات اگر به گزارش بگیریم چشمگیر است. باید دیوان ضخیم از این گزارش پر شود به همین ترتیب در تمام عرصه های اجتماعی، سیاسی و اقتصادی کار های چشمگیری به منصه اجرا قرار گرفته در این مدت کوتاه کارهای زیادی جامه عمل پوشیده است، که به اطمینان می توان گفت با این سرعت کاری طی چند سال آینده افغانستان به اعتلا خواهند رسید. چنانیکه با کشور های منطقه و فرار منطقه برابری خواهند نمود.

> **مسولین امارت اسلامی؛ چون: اراده خدمت به وطن و مردم خویش را داشتند و دارند چگونه در کوتاه مدت توانستند جلو همه نابسامانی های اجتماعی را در تمام عرصه ها به دست گیرند و مدیریت کنند تنها کار کرد های امارت اسلامی را در ترمیم و نو سازی جاده ها در مرکز و ولایات اگر به گزارش بگیریم چشمگیر است.**

بدون شک کشور عزیز ما افغانستان بیشتر از چهار دهه بحران و جنگ های تحمیلی را پشت سر گذاشته، امروزه زمان آن رسیده که دست به دست هم داده و وطن ویران خویش را دوباره بسازیم این وطن از ماست باید خود ما این وطن را بسازیم با دستان خود چشم به راه بیگانگان نباشیم که بیایند وطن مارا جور کنند.

ای وطن می سازمت آخر خودم میسازمت.

با مسؤلین و نهاد های امارت اسلامی دست به دست هم داده در راه اعتلای کشور آستین بر بزنیم

تا باشد افغانستان به خود کفایی کامل برسد. ان شاءالله

د صنعت او سوداګرۍ وزارت ...

د شفافیت او پانګونې د هڅونې په برخه کې مهم او حیاتي رول ولوبوي، په ځانګړي ډول د هغو پانګونو لپاره، چې نن په افغانستان کې ترسره کېږي او هم د هغو کسانو لپاره چې له هېواده بهر دي او غواړي د افغانستان په اقتصادي زېربناوو کې پانګونه وکړي. دوی په اوسنیو شرایطو کې مادي او معنوي ملاتړ ته جدي اړتیا لري.»

په همدې حال کې، د سوداګرۍ او پانګونې خونه وایي، د محمد هارون لودین په مشرۍ د ۲۱ کسیز افغان سوداګرو پلاوی، چې له دې وړاندې چین ته تللی، د چین د چنګدو ښار د ماشین آلاتو په نندارتون کې ګډون کړی دی.

د اقتصادي چارو شنونکی، عبدالنصیر رښتیا بیا وویل: «دا ډول سفرونه او غونډې ځانګړی اهمیت لري، ځکه څومره چې دا ډول ناستې او خبرې اترې زیاتې شي، هماغومره به د شته ستونزو لپاره د حل لارې هم وموندل شي.»

دا په داسې حال کې ده چې تر دې وړاندې د چین د ارومچي ښار د «چین ـ اوراسیا ۲۰۲۶» نندارتون هم د افغانستان د سوداګریز پلاوي په ګډون پرانیستل شوی وو.

د میدان وردګو په ...

مهمه ګڼل کېږي، بلکې د سیمې د ټولنیزو اړتیاوو پوره کېدو او د خلکو د ژوند د کیفیت لوړولو لپاره هم یو مهم ګام بلل کېږي.

په ورته مهال، د میدان وردګو د علماوو شورا رئیس شیخ عبدالهادي فضلي وویل، چې د اسلامي امارت مسئولینو له ولس سره کړې ژمنې په عملي توګه ثابتې کړې دي.

ده زیاته کړه، چې د روغتیا ترڅنګ به د سړکونو، کرنې او نورو پراختیایي برخو کې هم دې ولسوالۍ ته نورې پرمختیایي پروژې عملي شي.

بل لور ته د سیمې اوسېدونکو د دغه روغتون د جوړېدو هرکلی وکړ او دا یې د ولسوالۍ د روغتیایي سکتور د پیاوړتیا لپاره یو مهم ګام وباله، هغوی وویل، چې د دغه مرکز په جوړېدو سره به د ناروغانو د اوږدو سفرونو اړتیا کمه شي او خلکو ته به نږدې او اغېزناک خدمات برابر شي.

د سیمې یوه مشر حاجي انارګل د دغه روغتون د بنسټ اېښودل د خلکو لپاره یو حیاتي ګام وباله او ویې ویل: «دا روغتون زموږ د کلونو غوښتنه وه؛ اوس به زموږ ناروغان د درملنې لپاره لرو ښارونو ته نه ورل کېږي او ډېرې ستونزې به مو حل شي.»

بل قومي مشر ګل‌آغا وویل: «د دې پروژې په پیل سره موږ ته هیله پیدا شوه چې حکومت د لرو پرتو سیمو خلکو ته هم پاملرنه کوي. دا به زموږ د روغتیایي وضعیت په ښه کېدو کې مهم رول ولري.»

د سیمې د خلکو په وینا، تمه کېږي د دغه روغتون په جوړېدو سره به د سیمې زرګونو اوسېدونکو ته د مور او ماشوم د روغتیا، بېړنیو خدماتو، لابراتواري معایناتو او نورو اساسي طبي خدمتونو برخو کې مهم بدلونونه رامنځته شي.

د یادونې وړ ده، دایمیرداد د میدان وردګ یوه له غرنیو او نسبتاً لرو پرتو ولسوالیو ده چې تر اوسه د روغتیایي اسانتیاوو له پلوه له جدي ستونزو سره مخ وه.

د اسلامي نظام تر سیوري ...

دوی همداراز ټینګار کړی، چې د خپل یووالي او همغږۍ په ساتلو سره به د اسلامي نظام ملاتړ ته دوام ورکړي او هېچا ته به اجازه ورنه کړي، چې د هېواد امنیت ګډوډ یا د افغانستان په کورنیو چارو کې لاسوهنه وکړي.

مطبعې او ناشران مکلف دي ...

د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې، د نشراتو معین همدارنګه د کتاب خپروونکو او د مطبعو له مسئولینو وغوښتل چې داسې کتابونه چاپ او خپاره کړي، چې د ټولنې، په ځانګړي ډول د ځوانانو د فکري، فرهنګي او علمي ودې لپاره ګټور او ارزښتمن وي.

په غونډې کې نورو ویناوالو د (ISBN) شمېرې د کارونې، د مؤلف، مصنف، ژباړن او خپرونکي د حقوقو او مسئولیتونو، د اسلام د مبارک دین او شرعي احکامو له نظره د چاپ حق رعایت، د کتاب بازارموندنې او د ناشرانو د جوازونو په اړه خبرې وکړې.

خبرپاڼه کې راغلي چې د مطبعو استازو، ناشرانو او کتاب پلورونکو هم خپلې ستونزې، غوښتنې او وړاندیزونه وړاندې کړل، چې اړوندو مسؤلینو یې د څېړلو او حل داډ څرګند کړ.

تېر یو کال کې د ۴۵ زرو ...

د عامې روغتیا وزارت چارواکو وویل، چې د دې ناستې موخه دا ده چې ځوانانو او ټولنې ته د نشه یي توکو د استعمال له خطرونو او زیانونو په اړه لا ډېر معلومات وړاندې شي او د مخنیوي اغېزمنې لارې چارې پیاوړې شي.

د روږدو د درملنې ملي برنامې مسئول انعام‌الله عمار وویل، چې حکومت توانېدلی د روږدو د درملنې لپاره یو منظم سیستم رامنځته کړي. د ده په وینا: په هېواد کې له ۷۰ څخه زیات د درملنې روغتیایي مرکزونه فعال دي، چې پکې نه یوازې طبي درملنه بلکې د بیا رغونې او حرفوي زده کړو پروګرامونه هم عملي کېږي.

نوموړي زیاته کړه، چې په دې مرکزونو کې له ۴ زرو څخه زیاتو کسانو ته حرفوي زده کړې ورکړل شوې او اوس مهال هغوی د کار په بېلابېلو برخو کې بوخت دي.

ده وویل: «په تېرو دولسو میاشتو کې له ۴۵ زرو څخه زیاتو روږدو کسانو درملنه شوې، شاوخوا ۳۰۰ زرو کسانو ته د عامه پوهاوي پیغامونه رسول شوي، او له ۴ زرو څخه زیاتو کسانو حرفوي زده کړې بشپړې کړې او د کار بازار ته داخل شوي دي.»

ورته مهال، د ملګرو ملتونو د نشه یي توکو او جرمونو پر وړاندې د مبارزې دفتر (UNODC) استازي پولیک اوک سېږي وویل چې د نشه یي توکو د ستونزې د دوامداره حل لپاره باید د بزګرانو ملاتړ او د بدیل معیشت فرصتونه رامنځته شي.

ده زیاته کړه چې د کوکنارو بدیل کښتونه د نشه یي اقتصاد د کمولو لپاره بنسټیز اهمیت لري او نړیوال بنسټونه ژمن دي چې له افغانستان سره په دې برخه کې عملي همکاري وکړي.

نوموړي وویل: «د دوامداره معیشت ملاتړ خورا مهم دی، ځکه دا بزګرانو او ټولنو ته دا توان ورکوي چې له غیرقانوني اقتصاد څخه خپل تړاو کم کړي. د دې هدف د ترلاسه کولو لپاره په ملي، سیمه‌ییزه او نړیواله کچه قوي همکارۍ ته اړتیا ده.»

د عامې روغتیا وزارت ویاند ډاکټر شرافت زمان وویل چې اوس مهال په هېواد کې شاوخوا ۷۰ روغتیایي مرکزونه د روږدو د درملنې لپاره فعال دي، چې پکې د ښځو او ماشومانو لپاره ځانګړي خدمات هم شامل دي.

نوموړي وویل: «په دغو مرکزونو کې د نارینه‌وو ترڅنګ ښځو او ماشومانو ته هم روغتیایي خدمات وړاندې کېږي، او یوازې د ښځو لپاره ۱۰ ځانګړي مرکزونه فعال دي.»

روغتیایي چارواکي وایي چې د بېلابېلو ټولنیزو او اقتصادي ستونزو له امله د نشه یي توکو روږدي کېدل لا هم یوه جدي ننګونه ده. د رسمي معلوماتو له مخې، په ۲۰۱۵ کال کې نږدې ۳ میلیونه کسان په هېواد کې په نشه یي توکو روږدي وو، چې له دې ډلې شاوخوا ۸۵ زره ښځې او ماشومان وو.

د پکتیکا د ارګون-رباط ...

او یو شمېر سیمه ییزو چارواکو، قومي مشرانو او اوسېدونکو په حضور کې ترسره شول. د نوموړي په وینا، د سړک ترڅنګ به یو شمېر اړین مصنوعي ساختمانونه هم جوړ شي او ټاکل شوې، چې د پروژې چارې په ۲۲ کاري میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

د ټولګټو چارو وزارت وایي: د پروژې د پلي کېدو پر مهال به سیمه ییزو اوسېدونکو ته د کار زمینه برابره شي او له بشپړېدو وروسته به د پکتیکا د شپږو ولسوالیو د خلکو د تګ راتګ اسانتیاوې زیاتې شي.

خراب سړک او د شبکې ...

غلام‌نبي بیا د مخابراتي خدماتو د نشتوالي له امله شکایت کوي او وایي، چې د اړیکو د ټینګولو لپاره ساعتونه پیاده مزل کوي. د ده په وینا: «شاوخوا دوه ساعته مزل کوو تر کوتل پورې چې له هغه ځایه اړیکه ونیسو یا الهسای ته ولاړ شو؛ بله لاره نه لرو.»

عبدالهادي هم وایي، چې د شبکې محدود فعالیت د دوی د اړیکو په برخه کې جدي ستونزې رامنځته کړې دي.

د دې درې اوسېدونکي له اسلامي امارت څخه غوښتنه کوي، چې د سړک جوړولو او مخابراتي شبکو د پراختیا برخه کې دې جدي پاملرنه وکړي.

بل لور ته، د کاپیسا د فواید عامې رئیس بحرالله بدري د سړک د ستونزو د شتون پخلی کړی او وایي، چې د اسکین د سړک د جوړولو کار به پیل شي. دی وایي: «د الهسای پروژه چې روانه ده، له بشپړېدو وروسته پلان شته چې د اسکین سړک هم جوړ کړو او انتخاب شوی دی.»

همداراز، د کاپیسا د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ رئیس دلاور برهان وایي، چې روان کال به د الهسای ولسوالۍ په اسکین دره او کوټې کلي کې مخابراتي شبکې فعالې شي او د دې لپاره به دوه انتونه نصب شي.

اسکین د الهسای ولسوالۍ له ګڼمېشتو درو څخه ده، چې شاوخوا ۲۰ زره کسان پکې ژوند کوي. اوسېدونکي هیله لري، چې د سړک جوړېدو او مخابراتي خدماتو پراختیا سره به د دوی ستونزې هوارې شي.

افغان اعلانات

اعلان دعوت به داوطلبی

ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلآب شهری از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسهٔ داوطلبی پروژه تعویض شبکه آبرسانی ساحه عربان وبابریان شهرجلال آباد مرکزولایت ننگرهارکه تحت شماره داوطلبی:

UWASS-SOC/1405/NCB/W/003

می‌باشد، اشتراک نموده و نقل شرطنامه مربوط را از آمریت تدارکات ریاست اداری بدست آورده و آفرهای خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تدارکات طور سر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ۲۱ روز تقویمی ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر به آمریت تدارکات ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلآب شهری واقع سر تپه کارته نو ناحیه هشتم شهر کابل ارائه نمایند، آفرهای نا وقت رسیده و انترنتی به هیچ وجه قابل پذیرش نمی‌باشند.

چلسه آفرگشائی پروژه یادشده ساعت۱۰:۰۰ قبل از ظهر که تاریخ آن درج شرطنامه مربوط میباشد ودر اتاق کنفرانس های ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی وفاضلاب شهری تدویر می گردد.

د داوطلبیو خبرتیا

د استخباراتو عمومي ریاست له ټولو واجد داوطلبانو څخه غوښتنه کوي ترڅو په (تهیه و تدارک ٤٤ قلم ادویه جات ضرورتمندی شفاخانه استخبارات) چې د تشخیصیه شمیره یې: GDI/1405/NCS-03 ده ګډون وکړئ. او د شرطپاڼې سافټ په فلش یا سي ډي ډیسک کې په وړیا توګه د استخباراتو د تدارکاتو څانګې څخه چې پته یې ده ملالی وات، ملالی زیږنتون ترڅنګ شهر آرا کابل-افغانستان څخه ترلاسه کړئ.

له ګډونوالو څخه هیله کیږي چې د تدارکاتو قانون او کړنلارې له مخې خپل افرونه په ټرل شوې بڼه چې تاریخ او توانایي په آفر کې ذکر شوي دي تسلیم کړئ، او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ ندي.

اعلان مزایده

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دو جایداد ذیل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد، مدت سه سال.

۱. موازی ٦/ ۱۳۱۰۷ مترمربع زمین قطعه گمرکات واقع پکتیاکوت سمت شرق سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۲۸٤٤۳٤) افغانی. کوردینات (جی پی اس نمبر) ۲۸٥۲٤۸ /٦۹ - ۳٤/ ٥٤٥۱۹۲

۲. موازی ۷/ ٦۳۲۷ مترمربع زمین قطعه گمرکات واقع پکتیاکوت سمت شرق سرک کابل جلال آباد مربوط ناحیه ۹ شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۳۷۳۱۱) افغانی. کوردینات (جی پی اس نمبر) ۲۸۳۸۷٥ /٦۹ - ۳٤/ ٥٤٤۹۹۷۳

اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن جایداد های فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/۴/۸ الی ۱۴۰۵/۴/۱۷ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس : سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله ، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

د شماره تماس:(۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱۴۰۵/۴/۱۸به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد

اعلان مزایده

ریاست عمومی املاک دولتی وزارت مالیه دوکاکین ذیل واقع صدرمارکیت مربوط ناحیه ۱ شهر کابل را طور جداگانه به اعلان مزایده می سپارد، مدت ۱ سال.

۱. دوکان نمبر A64 بمساحت ۸/ ۰٦ متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۸۲۱۳) افغانی.

۲. دوکان نمبر 2-B1 بمساحت ۱٥/ ۱۲ متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۳۷۲) افغانی.

۳. دوکان نمبر 4-B3 بمساحت ١٤/ ٥٥ متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۹۹۸۱) افغانی.

٤. دوکان نمبر 6-B5 بمساحت ٦۱/ ١٤متر مربع واقع صدر مارکیت مربوط ناحیه اول شهر کابل به کرایه ابتدائی ماهانه مبلغ (۱۰۰۲۲) افغانی.

کوردینات (جی پی اس نمبر) ۱۱۷٤٦ /٦۹ ۳٤/ ٥۱٥۲۷۲

اشخاصیکه خواهان به کرایه گرفتن دوکاکین فوق را داشته باشند میتوانند درخواست های شان را از تاریخ ۱۴۰۵/۴/۸ الی ۱۴۰۵/۴/۱۷ به مدت (۱۰) روز به ریاست عمومی املاک دولتی تسلیم نموده و شرطنامه را اخذ نمایند.

آدرس : سینما پامیر تعمیر ١٤ منزله ، منزل٥، مدیریت عمومی ارزیابی قرار دادهای مرکز.

شماره تماس:(۰۲۰۲۹۲٤٦۰۷)، مجلس داوطلبی ۱۴۰۵/۴/۱۸به ساعت (۱۰:۰۰) قبل از ظهر برگزار میگردد.

اعلان

د عدلیې وزارت د انسجام لوی ریاست د ټولنو چارو ریاست په پام کې لري چې د ټولنې دلابنه تنظیم په موخه د اتحادیو او خیریه بنسټونو له کړنلارې سره سم،اتحادیه موتر فروشان قصبه ناحیه پانزدهم شهر کابل ته د فعالیت جواز ورکړي.

دیاد جواز اخیستلو لپاره نظرمحمد د طالع محمد زوی د کابل ولایت میربچه کوت ولسوالی اصلی او دکابل ولایت ١٥ ناحیی فعلی اوسیدونکی د رییس او احمد تمیم د ایام الدین زوی د کابل ۹ ناحی اصلی او فعلی اوسیدونکی د مرستیال په توګه عارض شوي، که پر یادو اشخاصو دصنف اړوند کوم څوک نیوکه لري، د اعلان له نیټې څخه تر لسو ورځو پوری د عدلیې وزارت یاد ریاست ته خپل شکایت له اسنادو او شواهد و سره یوځای په لیکلې بڼه وړاندې کړې، له یادې نیټې وروسته به نوموړو اشخاصوته د فعالیت جواز صادریږي چی دجواز د صدور له نیټې څخه د جواز تر نهایي نیټې پوری په یادو اشخاصو څوک د شکایت حق نه لری.۳۰۴۰

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه سیزدهم برچی واقع اول شهرک اتفاق به اسم حسین داد ولد محمد نبی مفقودگردیده از اعتبار ساقط است.۳۰۳٦

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه پنجم واقع بازار افشار به اسم عبدالکریم ولد محمد ایوب مفقو د گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰٦۳

اعلان مفقودی مهر فابریکه

یک عدد مهر فابریکه ستروان ملکیت محترم سید خان ولد محمد هاشم مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰٤٦

اعلان مفقودی

یک قطعه سند گمرکی موتر تیوتا فرونر ثبت شماره ۱٥٦۲ جدول عراده جات مدل ۲۰۱۳ به سم عین الدین ولد حاجی نیک محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰٤۸

اعلان مفقودی کارت

کارت نماینده فابریکه خیبر فارما به اسم ضیا الحق ولد فضل الربی مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰٥٦

اعلان مفقودی

یک قطعه جواز تشبث نوی کابورا کابل لمتید دارای نمبر ۲۰۸۷۷- ۰۱۰۱ به اسم بصیر احمد ولد مرزا محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰۳۹

اعلان مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی مربوط ناحیه سیزدهم به اسم شاه محمد ولد باز محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط است.۳۰۳٥

اعلان مفقودی

یک قطعه تصدیق نامه ثبت نمبر ۱٥۷۳٦٦ به اسم فیصل خان صافی ولد آدم خان مفقود گردیده اعتبار ساقط است.۳۰۷۰

د سیاحت، زده‌کړو او زیارت ...

او ایران ترمنځ د سیاحتي همکاریو پراختیا، د دواړو هېوادونو د سیلانیانو لپاره د لا ډېرو اسانتیاوو برابرول، د سفر، زیارت، درملنې او زده‌کړو بهیر اسانه کول، د ګډو کلتوري پروګرامونو پراختیا او د دوه اړخیزې همغږۍ له لارې د سیلانیانو د تګ راتګ زیاتول وو.

مولوي قدرت‌الله جمال ویلي: افغانستان او ایران ښې او دوستانه اړیکې لري، د سیاحت، درملنې، زده‌کړو او د کربلا زیارت کوونکو لپاره د ټرانسپورټ په برخو کې باید اړینې اسانتیاوې برابرې شي.

ښاغلي جمال د ایران له سفیر څخه غوښتي، چې ایران دې د خپلو تجربو په اساس د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی او هوټل‌داری انسټیټوټ د استادانو لپاره د روزنیزو او علمي سیمینارونو زمینه برابره کړي، ترڅو هغوی د مجربو استادانو له علمي تجربو او لاسته راوړنو څخه ګټه واخلي.

د ګرځندوی، مالي او اداري چارو مرستیال زیاته کړې، چې د اړینو اسانتیاوو د برابرولو په موخه به د ګډو همکاریو د پراختیا لپاره یو هوکړه لیک جوړ او د دواړو لورو له خوا به لاسلیک شي.

په کابل کې د ایران سفیر علي‌رضا بیکدلي ویلي؛ افغانستان او ایران ژور دیني، فرهنګي او تمدني مشترکات لري.

دغه‌راز نوموړي د دوه‌اړخیزو همکاریو د پراختیا پر اهمیت ټینګار کړی او په سیاحتي او زیارتي برخو کې یې د لا زیاتو اسانتیاوو د برابرولو داډ څرګند کړی دی.

ښاغلي بیکدلي زیاته کړې، چې د دواړو دوستو او ورونو هېوادونو د تجربو شریکول به د سیاحت د صنعت د ودې او پراختیا زمینه برابره کړي.

همداراز په کابل کې د ایران سفیر ویلي؛ د دواړو هېوادونو د اړوندو ادارو په همغږۍ سره به په افغانستان او ایران کې د ګرځندوی او هوټلداری انسټیټوټ د استادانو لپاره ځانګړي روزنیز سیمینارونه جوړ شي، چې تدریس به یې ایراني استادان کوي.

په پای کې دواړو لوریو په کلتوري او سیاحتي برخو کې د ګډو همکاریو پر پراختیا ټینګار کړی او په یادو برخو کې یې د دوامدارې همغږۍ او د دوه‌اړخیزو اړیکو د پیاوړتیا ژمنه کړې ده.

د افغان کډوالو ستنول باید ...

حقونو په رعایت سره، وشي او عملي شي.»

د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمېشنرۍ مشر، ولکر تورک، هم له یورونیوز سره په خبرو کې د افغان کډوالو د بېرته ستنولو په اړه غبرګون ښودلی او د هغوی جبري ایستل یې د توجیه وړ نه دي بللي.

د راپورونو له مخې، د تېر کال په لومړیو نهو میاشتو کې د اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو له لوري ۱۴ زره او ۲۷۰ افغان وګړو ته د دغو هېوادونو د پرېښودو امر شوی او تر اوسه ۳۴۰ کسان افغانستان ته بېرته ستانه کړل شوي دي.

د سیاسي چارو شنونکی، معین‌ګل څمکنی په دې اړه وویل: «هغه سفارتونه او قونسلګرۍ چې په بېلابېلو ښارونو کې شتون لري، باید اسلامي امارت ته وسپارل شي، څو وکولای شي دا بهیر په ښه ډول مدیریت کړي»

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې اوونۍ د سې‌شنبې په ورځ د اسلامي امارت پنځه کسیز پلاوی بروکسل ته تللی و او هلته یې د اروپايي ټولنې د ۱۵ غړو هېوادونو له استازو سره د مجرمو افغان کډوالو د بېرته ستنولو او قونسلي چارو په اړه خبرې کړې وې.

د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې ...

په دې هکله د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت ویاند، حکمت الله آصفي، د هېواد ورځپاڼې خبریال سره د مرکې له مخې ویلي دي، چې د دې وزارت له لوري د هېواد دننه د ټرانسپورټ پیاوړتیا او د موټر چلوونکو او مالونو د لېږد رالېږد د پروسې د آسانتیا په موخه ۲۱ تیر پارکونه جوړېږي چې اوس یې کارونه عملاً جریان لري.

د آصفي په خبره: «تیر پارکونه د هېواد په ۱۷ ولایتونو کې جوړېږي چې پرې څه باندې ۳۸۸ میلیونه افغانۍ لګښت راځي او د جوړېدو سره به یې ګڼ شمېر سهولتونه د ولایتونو په کچه رامنځته شي او ور سره به آسانه ټرانسپورټي خدمتونو کې ښه والی راشي.»

د نوموړي په وینا: «د تیر پارکونو د جوړېدو چارې جریان لري چې په کې مسجدونه، اوبو رسولو عصري سیستمونه، تم ځایونه او نور اړین ځایونه په کې جوړېږي چې د سیمو د پرمختګ سبب به وګرځي، یو د بل سره به وصل شي او په مستقیم او غیري مستقیم ډول په کې لس زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.»

په ورته مهال د اقتصادي چارو کارپوه، جهانګیر ناصري، وایي: «د تیر پارکونو سره د بار وړونکو موټرو تګ راتګ تنظیم کېږي، ټرانزېټ بهیر کې چټکتیا رامنځته کېږي، وخت او لګښت کې کموالی راځي او د صادراتو او وارداتو لارو چارو کې اړین سهولتونه رامنځته کوي.»

د نوموړي په خبره: «د تیر پارکونو سره د هېواد ټرانزېټي موقعیت پیاوړی کېږي، نړیوال سوداګریز دهلېزونه پراخېږي، د پانګونې سیستم ور سره غښتلی کېږي او د جذب زمینه یې برابروي، نو تیر پارکونو سره د هېواد اقتصاد ښه کېږي او د سیمې په کچه د لوړ اقتصاد فرصتونه ور سره برابرېږي. افغانستان دننه چې د تیر پارکونو کومې پروژې د کار لاندې دي، د هېواد لپاره لنډ مهالې او اوږد مهالې اقتصادي ګټې لري چې د نړیوالې سوداګرۍ او د پانګوالو د پاملرنې د خپلولو لپاره اړینه ده چې همدا ډول دوام ومومي تر څو اقتصادي ودې په برخه کې مهم ګامونه واخیستل شي.»

د یادونې وړ ده چې تیر پارکونه هغه ځانګړي تمځایونه دي، د نړیوالو بار وړونکو لاریو لپاره جوړېږي چې په کې د تم کېدو، ګمرکي کارونو، امنیت، پارکینګ او نور خدمتونه آسانتیاوې په کې برابرېږي.

زیارمل هوتک

بغلان کې د کورنیو تولیداتو ...

ده د دغه نندارتون موخه د صنعت کارانو ملاتړ، د کورنیو تولیداتو پیاوړتیا، د ملي صنعتونو پراختیا، د کورنیو محصولاتو لپاره د مناسب بازار موندنه او د هېواد د تولیدي ظرفیتونو معرفي کول وبلل او زیاته یې کړه، چې دغه نندارتون به د درېیو ورځو لپاره دوام وکړي.

په همدې حال کې د بغلان والي مولوي عبدالله مختار د نندارتون د لیدنې پر مهال د پانګونې، صنعتونو د ودې او اقتصادي فعالیتونو پر پراختیا ټینګار وکړ.

نوموړي زیاته کړه، چې د دې ډول نندارتونونو جوړول د هېواد د تولیدي ظرفیتونو په معرفي کولو، د محصولاتو په بازارموندنه او د ملي اقتصاد په پیاوړتیا کې مهم رول لري او له هېوادوالو یې وغوښتل، چې د کورنیو تولیداتو په پېرلو سره د هېواد د اقتصاد په پیاوړتیا کې ونډه واخلي.

دغه راز په یاد نندارتون کې ګډونوال صنعت کار محمد سیر منیب د دغه نندارتون له جوړېدو خوښي څرګنده کړې او د کورنیو تولیداتو د ملاتړ، د مناسب بازار د رامنځته کېدو او د صنعت کارانو د محصولاتو د لا ښه معرفي کېدو لپاره یې د ورته نندارتونونو د دوام غوښتنه کړې ده.

د افغانستان او نړۍ ترمنځ ...

د منځنۍ اسیا هېوادونو له استازو سره پر بېلابېلو برخو بحثونه لرل، چې زمینه یې دېته برابره کړه، چې د افغانستان او منځنۍ اسیا ترمنځ په اقتصادي، سیاسي او نورو برخو کې تعاملات زیات شي.»

کارپوهان بیا د بهرني سیاست په برخه کې د اسلامي امارت هڅه بریالۍ بولي او زیاتوي چې د بهرني سیاست دستګاه بریالۍ شوې چې ګاونډیو او سیمې هېوادونو ته قناعت ورکړي، چې له افغانستان سره اړیکې زیاتې کړي.

دوی وایي: اروپايي ټولنې او نورې نړۍ ته هم په کار ده، چې له افغانستان سره تعامل ته داخل شي او د متقابل درناوي پربنسټ رسمي اړیکې جوړې کړي.

د دوی ټینګار په دې دی چې افغان حکومت باید نړۍ ته دا قناعت ورکړي چې یوازې سوله ییز او با ثباته افغانستان د ټولو په ګټه دی.

د سیاسي چارو شنونکی شهزاده مسعود وایي: « افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د منځنۍ اسیا او ګاونډیو هېوادونو او دغه راز له سترو سیمه ییزو هېوادونو سره د متقابل درناوي پر بنسټ هم په سیاسي او هم په اقتصادي لحاظ ښه روابط لري. همدارنګه اروپايي ټولنې او د امریکا متحده ایالاتو ته بویه چې د متقابل درناوي له مخې د نېکې رابطې لاره خپله کړي.»

د چارو شنونکی نجیب الله جامع وایي: « د افغانستان د بهرني سیاست دستګاه پراخې لاسته راوړنې لري، له سیمې سره د افغانستان تعامل پراخ شوی، مهم او ستراتېژیک هېوادونه له افغانستان سره سیاسي اړیکو ته راښکېل شوي. په کار ده، چې دا سیاسي بهیر لا پیاوړی شي او نړۍ ته قناعت ورکړل شي چې یو باثباته، سیال او پرمختګ پال افغانستان ستاسو په ګټه دی.»

په ورته مهال، بهرنیو چارو وزارت وایي جدي هڅې یې پیل کړې دي ، چې د افغانستان او هېوادونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي او سوداګریزو برخو کې اړیکې لا پراخې کړي او له یادو هېوادونو سره له شته مشترکاتو مثبته ګټه واخلي. د دې وزارت د چارواکو په خبره، له ټولو سره ښې او په متقابل درناوي ولاړې اړیکې غواړي او تر ډېره یې په دې ستراتیژۍ کې پرمختګ هم کړی.

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند په دې اړه وایي: « د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت تل په دې هڅه کې دی او ګړندي ګامونه اخلي چې د افغانستان او سیمې ترمنځ په سیاسي، اقتصادي او سوداګریزه برخو کې لا پراختیا رامنځته کړي. همدارنګه د افغانستان، ګاونډیو او سیمه ییزو هېوادونو ترمنځ چې کوم اقتصادي او ټرانزېټي مشترکات دي، له هغو سالمه استفاده وشي، تر څو د افغانستان د رفاه، ځان بسیاینې او ولسونو د ترقۍ لپاره کار وشي.» په ټوله کې باور دا دی چې لرې نه ده د مرکزي اسیا هېوادونه او د ایران په شمول د افغانستان ځینې نور ګاونډیان هم له کابل سره خپل شته سیاسي، اقتصادي او سوداګریز تعاملات په رسمي اړیکو بدل کړي او د مسکو په څېر د افغانستان اوسنی حکومت په رسمیت وپېژني.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاین مسئول: یما عرب
ویبپاڼي مسئول: ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

ټویټر
بریښنایي پاڼه

اسعارو بیعه

یو ډالر	۶۵.۰۰ اف
یو یورو	۷۴.۱۰ اف
یو پونډ	۸۵.۲۰ اف
یو درهم	۱۷.۷۰ اف
زر ریال	۰۳۸ اف
زر کلدارې	۲۲۴ اف
زر کلدارې	۷۴۳ اف

د هوا حالات

	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	
۰۴:۴۳	۳۶°C	۳۴°C	۳۸°C	۴۴°C	۴۷°C	۴۵°C	۳۴°C	۰۷:۱۰

بهرنیو چارو وزارت:

د افغانستان او نړۍ ترمنځ تعامل ورځ تر بلې پراختیا مومي

د افغانستان اسلامي امارت بهرنیو چارو وزارت تازه ویلي، چې د سیمې او نړۍ هېوادونو سره یې اړیکي او تعاملات ورځ تر بلې د پراختیا په حال کې دي، سیاسي او اقتصادي ښکېلتیا یې سره زیاته شوې ده.

د دې وزارت د چاروکو په خبره، د اقتصاد محوره بهرني سیاست پر مټ توانېدلي چې منځنۍ اسیا هېوادونو سره سیاسي او اقتصادي اړیکي پراخې کړي او له ټولو سره د باورفضا رامنځته شي.

د بهرنیو چارو وزارت مرستیال ویاند ضیا احمد تکل وایي: « د افغانستان او سیمې هېوادونو او دغه راز د نړیوالو هېوادونو ترمنځ اړیکي ورځ تر بلې د پراخېدو په حال کې دي، د اعتماد کچه ورځ تر بلې لوړېږي او ښکېلتیاوې زیاتېږي. تاسو جریان کې یاست چې د افغانستان او منځنۍ اسیا هېوادونو ترمنځ تګ راتګ زیات شوی، په اقتصادي او سوداګریزو برخو کې پراخوالی راغلی. څه موده وړاندې د افغانستان اسلامي امارت پلاوی ...

۳مخ

بهرني لنډ خبرونه

سپاه پاسداران:

د امریکا د بریدونو په غبرګون کې اته امریکایي پوځي هدفونه په نښه شول

د ایران سپاه پاسداران وايي، چې د امریکا د وروستیو بریدونو په غبرګون کې یې په کویټ او بحرین کې د امریکا پوځ اړوند پر اتو مهمو پوځي بنسټونو بریدونه کړي دي. دغه ځواک همداراز ګواښ کړی، چې په راتلونکو ورځو کې به د سیمې امریکایي پوځي اډې له سختو بریدونو سره مخ شي. سپاه پاسداران ویلي، چې د اوربند هر ډول سرغړونه به روان بهیر په بشپړ ډول ودروي او د هرمز تنګي په اړه به له هغو بېړیو سره، چې د ایران لاربښوونې نه مني، تر پخوا سخت چلند وشي. د دوی په وینا، د هرمز تنګي د سمندري تګ راتګ د کنټرول ترتیبات د ایران په واک کې دي.

یاد ځواک ټینګار کړی، چې د امریکا وروستی برید د ایران پر پنځو ساحلي سیمو ترسره شوی او د دوی وروستي پوځي عملیات د همدې برید په ځواب کې ترسره شوي دي.

سپاه پاسداران خبرداری ورکړی، چې هر ډول نوی برید به له «سخت او پرېکنده» غبرګون سره مخ شي.

کراچۍ کې پر یوه نظامي مرکز برید کې درې پاکستاني پوځیان وژل شوي

پاکستاني چارواکو ویلي، چې په کراچۍ ښار کې د رینجرز ځواکونو پر یوه مرکز د وسلهوالو په ډلهییز برید کې لږ تر لږه درې امنیتي ځواکونه وژل شوي او دوه نور ټپیان دي.

الجزیرې راپور ورکړی، چې دغه برید د کراچۍ ښار د «ګلستان جوهر»



په سیمه کې د رینجرز ځواکونو پر مرکز شوی او د نښتې پر مهال ځلور بریدګر هم وژل شوي دي.

د امنیتي سرچینو په خبره، بریدګرو تر هغه وروسته چې له چاودېدونکو توکو ډک موټر یې د یاد مرکز له دروازې سره ټکر کړ، د مرکز انګړ ته ننوتل.

سرچینې لیکلي، چې له دې پېښې وروسته امنیتي ځواکونو سیمه کلابنده کړه، د ځانګړو ځواکونو، د ترهګرۍ ضد څانګې او رینجرز ځواکونو په ګډون یې سیمه کې د تصفیې عملیات پیل کړل.

په راپور کې راغلي، د «جماعت‌الاحرار» ډلې یوې څانګې چې د تحریک طالبان پاکستان (TTP) له بېلې شوو ډلو شمېرل کېږي، د دغه برید مسئولیت منلی دی.

وینزویلا کې د دوو پرله‌پسې زلزلو د قربانیانو شمېر ۱۴۳۰ تنو ته ورسېد

د وینزویلا چارواکو اعلان کړی، چې د ۷.۲ او ۷.۵ درجې دوو پرله‌پسې زلزلو له امله د مړو شمېر ۱۴۳۰ تنو ته لوړ شوی، ۳۲۳۸ کسان ټپیان شوي او کورنیو د څه باندې ۶۸ زره او ۹۰۰ کسانو د ورکېدو راپور ورکړی دی.

د ژغورنې نړیوال او کورنۍ ټیمونه د وخت پر وړاندې سیالي کوي او د درنو ماشینونو او خپلو لاسونو په وسیله د نړېدلو ودانیو تر خاورو لاندې د ژوندي پاتې شویو کسانو د موندلو هڅې روانې ساتلي دي.

چارواکي وايي، د سختې ګرمۍ او نامناسبو هوایي شرایطو له امله د ژغورنې عملیات له ګنو ستونزو سره مخ دي، په ځانګړي ډول د لا ګوایرا ایالت کې، چې د زلزلې تر ټولو ډېر زیان ورته اوښتی دی.

د میدان وردګو په دایمیرداد کې د ۳۰ بستریز روغتون جوړولو چارې پیل شوې

د میدان‌وردګو په دایمیرداد ولسوالۍ کې د نږدې ۶۴ میلیون افغانیو په لګښت د یوه ۳۰ بستریز روغتون جوړولو چارې پیل شوې.

د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي په دې اړه جوړ شوو مراسمو کې وویل، چې د اسلامي امارت د مشرتابه د ځانګړې پاملرنې له مخې په ټول هېواد کې ۳۱۸ هغه ولسوالۍ، چې تر ډېره له روغتیایي خدماتو بې برخې دي، د روغتیایي مرکزونو جوړولو په پلان کې شاملې شوې دي.

ده زیاته کړه، چې د دایمیرداد ولسوالۍ کې د روغتون جوړول هم د همدغه ملي پروګرام یوه برخه ده، چې عملي چارې یې د یکشنبې په ورځ پیل شوې.

نوموړي زیاته کړه چې دغه روغتون پر ۷ جریب ځمکه په پاخه او اساسي ډول جوړېږي او تمه ده چارې یې د ۱۸ میاشتو په موده کې به بشپړې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

جلالي وویل، چې دغه پروژه د عامې روغتیا وزارت له بودیجې تمویلېږي او موخه یې خلکو ته په سیمه کې د معیاري او نږدې روغتیایي خدماتو برابرول دي.

هغه همدارنګه زیاته کړه چې دغه پروژه نه یوازې د روغتیایي خدماتو د پراختیا برخه کې ...

۲مخ

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزیر:

د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د افغانانو عقیده، تاریخ، ازادي او عزت خوندي دی

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزیر ملا نورالله نوري، د سرپل د کوهستاناتو په سیمه کې یوې سترې ولسي غونډې ته د وینا پر مهال ویلي، چې د اسلامي نظام تر سیوري لاندې د افغانستان د خلکو عقیده، تاریخ، ازادي، ارزښتونه او عزت خوندي دی.

نوموړي زیاته کړې: «هغه کسان، چې د تېرو شلو کلونو پر مهال یې د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره له افغانانو څخه ګټه اخیستې، نن باید د هېواد د آزادۍ شعارونه ورنه کړي.»

د ملا نورالله نوري په وینا، له اسلامي نظام څخه د خلکو ملاتړ د زور او جبر له مخې نه، بلکې د هغوی د عقیدې، کلتور، فکر او باورونو پر بنسټ دی.

له بلې خوا، د غونډې ګډونوالو د اسلامي نظام پر لا پیاوړتیا او د افغانستان د خلکو ترمنځ د یووالي پر ټینګښت ټینګار کړی دی.

ګډونوالو ویلي، اوسنی نظام د خلکو له کورني ملاتړ او مشروعیت څخه برخمن دی او هغه کسان چې د نظام پر ضد دسیسې جوړوي، د خلکو په منځ کې ځای نه لري ...

۲مخ

مهاجر فراهي:

خپرندویه ټولنې دې د خپلو کتابونو لپاره د ای‌اېس‌بي‌اېن شمېره ترلاسه کړي

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معین د ناشرانو، کتاب‌پلورونکو او د مطبعو له مسئولینو سره د همغږۍ غونډه کې ویلي، چې ټولې مطبعې او ناشران مکلف دي د خپلو کتابونو لپاره د ای‌اېس‌بي‌اېن شمېره ترلاسه کړي او له مسئولینو یې غوښتي، چې د کتابونو برابرولو او پېرلو قراردادونه له کورنیو ناشرانو سره ترسره کړي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت خبرپاڼه کې راغلي، چې د دغه وزارت د خپرونو چارو معینیت اړوند د کاپي‌رایټ آمریت له خوا له ناشرانو، کتاب‌پلورونکو او د مطبعو له مسئولینو سره د همغږۍ غونډه ترسره شوه.

په یاده غونډه کې د چارو اداري مشر شیخ نورالحق انور هم ویلي، چې مطالعه د انسان له اساسي اړتیاوو ده او د انسان ذهن پیاوړی کوي او وړتیا یې زیاتوي.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرونو چارو معین مهاجر فراهي هم ویلي، ټولې مطبعې او ناشران مکلف دي، چې د خپلو کتابونو لپاره د (ISBN) شمېره ترلاسه کړي.

نوموړي زیاته کړې، چې د مطبعو د مسئولینو، ناشرانو او کتاب‌پلورونکو ستونزې به وڅېړل او حل به شي او د هغوی لپاره به ماشین‌خانه کې مناسب ځای هم په پام کې نیول شوی دی.

فراهي د اړوندو ادارو له مسئولینو غوښتي، چې د کتابونو برابرولو او پېرلو قراردادونه له کورنیو ناشرانو سره ترسره کړي ...

۲مخ

د عامې روغتیا وزارت:

تېر یو کال کې د ۴۵ زرو څخه زیاتو روږدو کسانو درملنه شوې

د عامې روغتیا وزارت وايي: په هېواد کې له نشه یي توکو سره د مبارزې او د روږدو د درملنې په برخه کې پراخ پروګرامونه پلي شوي، چې په پایله کې یې یوازې په تېر یو کال کې له ۴۵ زرو څخه د زیاتو روږدو کسانو درملنه ترسره شوې ده.

دغه وزارت د نشه یي توکو د زیانونو په اړه د عامه پوهاوي د پراختیا په هدف د چنګاښ په ۷مه نېټه یوه ځانګړې غونډه جوړه کړه، چې پکې د بېلابېلو دولتي ادارو استازو، د اروپایي ټولنې، د روغتیا نړیوال سازمان (WHO)، د UNDP او UNODC استازو ګډون درلود.

۲مخ

اسکین درې اوسېدونکي:

خراب سړک او د شبکې نشتوالی مو ژوند له ستونزو سره مخ کړی

د کاپیسا د الهسای ولسوالۍ د «اسکین» درې یو شمېر اوسېدونکي وايي، چې د معیاري سړک نشتوالي او مخابراتي خدماتو ته نه لاسرسي دوی له جدي ستونزو سره مخ کړي دي.

د دې درې یو اوسېدونکی جمعه ګل وايي، د سړک خرابوالي له امله د ناروغانو انتقال د درملنې مرکزونو ته خورا ستونزمن شوی دی. د ده په وینا: «له دې ځایه چې ځو، روغ تر الهسای نه رسېږو او کله ناکله پیاده تګ ته مجبوره کېږو، ځکه سړک ډېر خراب دی؛ کله ناروغ هم تر روغتیایي مرکز نه رسېږي.»

د سیمې یو بل اوسېدونکی نقیب‌الله وايي چې کله ناکله د اړتیاوو د پوره کولو لپاره له درې تر الهسای ولسوالۍ پورې پیاده سفر کوي. دی زیاتوي: «د کوتل لوړوالی موږ ته ستونزې جوړې کړې دي، سړکونو کې د اوبو ویالې هم نشته؛ کله چې اړتیا وي، په درې-څلورو ساعتونو کې هم مقصد ته نه رسېږو.» ...

۲مخ

د پکتیکا د ارګون-رباط ۲۰ کیلومتره سړک د جوړولو چارې پیل شوې



د ټولګټو چارو وزارت د پکتیکا ارګون ولسوالۍ څخه د سروبي ولسوالۍ تر رباط سیمې پورې د ۲۰ کیلومتره سړک رغنیزې چارې د ۵۶۰ میلیونه افغانیو په ارزښت د ډیزاین بلټ په بڼه پیل کړې.

د وزارت ویاند محمد اشرف حق شناس ویلي، د پروژې د پرانیستې مراسم د پکتیکا د والي ...

۲مخ